Utlendingsdirektoratet
Norwegian Directorate
of Immigration

# په کمپونو کې له شخصي معلوماتو سره د چلند په اړه معلومات

تاسو چې پناه غوښتونکی یاست، باید په ښه توګه وڅارل شئ او پاملرنه درته وشي.

کمپ او د کډوالو د چارو اداره (UDI) کولای شي چې په تاسو پورې په اړوندو اړینو معلوماتو کار وکړي تر څو وکولای شي چې:

- تاسو ته په کمپ کې د ژوند کولو لپاره ځای برابر کړي.
- تضمین کړي چې تاسو ته هغه پیسې درکړل شي، چې مستحق یې یاست.
- د هغو کسانو ښه ساتنه او پالنه وکړي، چې یوازې دي (پرته له مور او پلاره دي) او عمرونه یې له اتلسو کلونو کم دي
- په کمپ کې تاسو په هغه ډول وڅاري او پاملرنه درته وکړي، چې ستاسو لپاره مناسبه وي.
- که چیرې ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک رد شي او خپل هیواد ته باید ستون شئ، تاسو وڅاري او پاملرنه درته وکړي.

کمپ باید د پورتنیو کارونو د تر سره کولو لپاره د کډوالو د چارو د ادارې (UDI) په استازیتوب ستاسو په اړه ځیني معلومات راجستر کړي.

کله چې مونږ ستاسو له شخصي معلوماتو سره چلند کوو، نو دا کار د هغو قوانینو او مقرراتو په چوکاټ کې ترسره کیږي، چې زمونږ دندې او مسؤلیتونه تنظیموي، یاني د بهرنیانو د چارو قانون، د اداري چارو قانون او د شخصي معلوماتو قانون.

کمپ او د کډوالو د چارو اداره (UDI) د راز ساتنې مکلفیت لري او یوازې هغه وخت نورو ته ستاسو په اړه ستاسو شخصي معلومات ورکولای شي، چې په قانون کې راغلي وي او یا هم تاسو پخپله موافقه وکړئ.

**تاسو کولای شئ له کمپ سره اړیکه ونیسئ تر څو معلومات تر لاسه کړئ چې:**

- کمپ ستاسو په هکله کوم معلومات راجستر کړي دي
- دا معلومات یې له کوم ځایه تر لاسه کړي دي
- معلومات یې څنګه کارولي دي
- معلومات یې څنګه خوندي کړي دي

تاسو کولای شئ د هغو معلوماتو د سمولو (صحیح کولو) او یا پاکولو غوښتنه وکړئ، چې ناسم (غلط) دي. همدارنګه تاسو کولای شئ له کمپ او یا د کډوالو د چارو له ادارې (UDI) څخه د یادو معلوماتو د لیکل شوې بڼې د تر لاسه کولو غوښتنه وکړئ.

تاسو په دې اړه معلومات، چې د کډوالو د چارو اداره (UDI) ستاسو له شخصي معلوماتو سره څنګه چلند کوي، د کډوالو د چارو د ادارې (UDI) په تګلاره کې لوستلای شئ. تاسو یاده تګلاره په udi.no انترنت پاڼه کې مونلای شئ.

## لاسلیک او تائید

☐ زه په دې لیک کې په راکړل شویو معلوماتو پوه شوی یم.

د پناه غوښتونکي لاسلیک/سرپرست ______________________

نېټه او ځای ______________________